# افغانستان

# د ۲۰۱۶ نیم کلن راپور

# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه



© فاطمه فيضي/ الجزيره / ۲۰۱۶

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفتر

کابل، افغانستان

جولای ۲۰۱۶

# AFGHANISTAN ADMINISTRATIVE DIVISION




Source: UNAMA GIS January 2012

# افغانستان

# د ۲۰۱۶ نیم کلن راپور

# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفتر

کابل، افغانستان

جولای ۲۰۱۶

په لومړۍ صفحه تصویر © ۲۰۱۶/ الجزیره. نجونو د خپل وژل شوي پلار تصویر په لاس کې نیولی ، چې د طالبانو لخوا په موټر کې د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو ځانمرګي برید کې وژل شوی ، برید د رسنیو د موبي ګروپ پر ترانسپورتي موټر باندې په ۲۰ جنوري ۲۰۱۶ تر سره شو.

”راپور یو ځل بیا هغه کړاونه رابرسیره کوي، چې په افغانستان کې د جګړې د ښکېلو لورو لخوا ولسي خلکو ته اوښتي او دا په ډاګه کوي چې جګړې څرنګه دوي له بنسټیزو حقونو او خوندیتوب محروم کړي، افغانان یې د کور دننه بې ځایه کړي او ډیری نور یې په بهر کې پناه غوښتنې ته اړ کړي. اوسنیو پېښو ښودلې، چې دا په یوه حرکت بدلیږي چې په باالقوه ډول د بشري حقونو د تیري او سرغړونو یو ابشار ( چوکاټ) جوړوي چې د افغانستان څخه تر مدیترانې وراخوا غځیدلی. که چیرې غواړو په افغانستان کې د بشري حقونو د خوندیتوب په اړه پرمختګونو ووینو او په هغې اندازه کې بدلون راولو چې افغانان، ښځې، نارینه او ماشومان دې ته اړباسي چې د لویو ګواښونو په منلو سره خپل هیواد پرېږدي، نو له بشري حقونو څخه هغه سرغړونې، چې د یومانا او زما د کارمندانو له خوا مستندې شوې، باید د چارواکو له خوا په پام کې ونیول شي او مرتکبین یې حساب ورکونې ته را وغوښتل شي.“

زید راعد الحسین ، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالی کمشنر ، جنیوا ، جولای ۲۰۱۶.

”د تلفا تو هره یوه پېښه چې په دې راپور کې ثبته شوې، هره میرمن، نجلۍ، یا هلک چې زده کړو او مناسبې روغتیا پالنې ته بې د لاس رسي مخنیوی شوی، او هر هغه سړی او ښځه چې د معیشت څخه محروم شوی، په ژمنه کې د پاتې راتلو ښکارندوي ده او د جګړې په ښکیلو خواوو یو غږ دی، چې د ولسي وګړو د تلفاتو د مخنیوي لپاره مهم او مشخص ګامونه پورته او خوندیتوب یې غښتلی کړي. هغه ژمنې او اعلامیې چې عملي بڼه ورنکړل شي د وخت په تیریدو تش غږ بریښي. تاریخ او د افغان ولس اورده حافظه به د ټولو ډلو د رهبرانو پر ښو خبرو نه، بلکې د هغوي د چلند او رویې په اساس قضاوت وکړي."

تیډا میچي یاماموتو ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سر منشي ځانګړی استازی ، کابل ، جولای ۲۰۱۶.

## صلاحیت / واک

په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړوند د ۲۰۱۶ کال دغه نیم کلن راپور ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي( یوناما ) د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتو شوی ، چې د روان کال د جنورۍ له لومړۍ نیټې څخه د جون تر ۳۰ مې هغې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د بشري حقونو څانګې له خوا د هغه صلاحیت او واک له مخې چمتو شوی دی ، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د ۲۲۷۴ (۲۰۱۶) پریکړه لیک پر بنسټ یوناما ته ورکړل شوی دی ترڅو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري ، د دوی د خوندیتوب د باورۍ کیدو په موخه هڅې همغږې کړي ، حساب ورکول تقویه کړي او د بنسټیزو ازادیو او بشري حقونو د احکامو ، چې د افغانستان په اساسي قانون او په نړیوالو تړونونو کې تسجیل شوي دي او افغانستان یې غړیتوب لري ، په بشپړ ډول پلي کېدو کې مرسته وکړي او په ځانګړي ډول د هغو احکامو په پلي کولو کې مرسته وکړي چې د ښځو د حقونو څخه د برخمن کیدو سره تړاو لري.

۲۲۷۴ (۲۰۱۶) شمیره پریکړه لیک په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعیت او په ځانګړې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند روانې څارنې او راپور ورکونې ته اهمیت ورکوي.

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه :په خپلواکه او ناپیلي ډول د داسې پېښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي ؛ په وسله والو جګړو کې د زیانمن شویو ملکي وګړو د ساتنې د تقویې په موخه ملاتړ ؛ او د داسې نوښتونو پیل چې د نړیوالو بشري حقونو او د بشر پالنې د نړیوال قانون او د افغانستان د اساسي قانون او نورو قوانینو سره سمون ولري او په جګړه کې د ټولو ښکېلو غاړو له لوري رعایت شي.

په دې راپور کې د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفتر( او ایچ سی ایچ ار ) لخوا تخنیکي سلا مشوره تر لاسه شوې.

## میتودولوژي

یوناما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلي په سیمه کې څیړي ، له مختلفو سرچینو سره په پراخه کچه سلا مشوره کوي او بیلا بیل معلومات راغونډوي ، چې د اعتبار او باور له مخې ارزول شوي وي . یوناما د هرې پیښې په څیړنه او تحلیل کې زیاته هڅه کوي ، چې تر شوني بریده له مختلفو سرچینو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنټرول کړي ، لکه د عیني شاهدانو ، قربانیانو او په مستقیم ډول د زیانمن شویو وګړو ، د نظامي کارکوونکو ( د افغان حکومت او نړیوالو نظامي ځواکونو ، د دولت وسله والو مخالفینو په ګډون ) ، لکه د کلي / ولسوالۍ او ولایت ځایي چارواکو ، مذهبي او د ټولنې د مشرانو او نورو برخه والو څرګندونې شاملې دي.

یوناما ټول مالومات د پیښو له سیمې څخه د مستقیمو لیدنو ، د پیښو د ځای څخه د لاسته راغلو موادو ، شواهدو او مدارکو د فزیکي ازموینې ، د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه د لیدنو ، د تصویرونو او ویډیوګانو ، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصؤنیت د څانګې او نورو ادارو راپورونو ، د دوهم لاس سرچینو ، او د هغو مالوماتو له لارې راغونډوي چې د غیر دولتي سازمانونو او دریمګړو سرچینو له خوا ترلاسه شوي وي.

د ملکي تلفاتو د هرې ځانګړې پیښې د کره کولو لپاره یوناما لږ تر لږه درې ډوله سرچینو ته اړه ده لکه قرباني ، شاهدان ، طبي پرسونل ، ځایي چارواکي ، په جګړه کې دښکیلو غاړو له خوا تایید ، قومي مشر یا نورې سرچینې وي. تر هغه ځایه چې ممکن وي ، څیړنې د قربانیانو یا د پیښې د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پیښې د ځاي پر پلټنو ولاړې وي . ځینې وختونه ، د پیښې ځای ته د امنیتي ستونزو له امله لاس رسی محدود وي ، او دغه ډول تحقیقات ممکن نه وي ، په داسې شرایطو کې یوناما یو لړ تخنیکونه کاروي چې د امکان تر بریده د پراخو معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي چې داعتبار او باور له مخې ارزول شوي او پوره ازښت لري.

کله چې یوناما د یوې پیښې په اړه د معلوماتو د کره والي څخه ډاډمنه نه وي هغه پیښه نه تاییدوي او د نه ناتایید شوې پیښې په اړه راپور ورکوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي مخکې له هغې چې نتیجې ته ورسیږي څو اونۍ وخت ونیسي . دا په دې مانا ده چې د ملکي تلفاتو په اړه نتیجې ښایي چې بیا نوې شي ځکه چې تازه معلومات را رسیږي او په تحلیل کې شامل او ورڅخه کار اخیستل کیږي. په کوم ځاي کې چې معلومات ښه څرګند نه وي او تر څو چې معتبر او قناعت بخښونکي شواهد لاس ته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري تر هغې نه کیږي ،تر کومې چې د قناعت وړ شواهد لاس ته راشي بې پایلې یانې نتیجې ته له رسیدو پرته قضیه تړل کیږي او په احصایوي راپور کې نه شامیلیږي.

د ځینو پیښو په راپور کې د قربانیانو ملکي هویت (موقف) په بشپړ ډول نه شي ثابیتیدلای او یا لانجمن ټکي وي ، چې په داسې قضیو کې یوناما د بشرپالنې د نړیوال قانون معیارونه په پام کې نیسي او داسې نه ګڼي چې د جنګ لپاره د عمر په لحاظ برابر نارینه جنګیالی یا ملکي کس دی . بلکه دا ډول ادعاګانې په پیښې پورې د اړوندو حقایقو او پوښتنو پر بنیاد ارزول کیږي او کله چې پوره معلومات موجود نه وي نو دغه تلفات د راپور په شمیرو کې نه شمیرل کیږي.

په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د خپل راپور او ارزونې څخه د ملاتړ په موخه ، یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو بریښنایي ډیټابیس جوړ کړ. ډیټابیس داسې طرح شوی ، چې د معلوماتو سیستماتیکه ، یوشان او اغیزمنه راټولونه او تحلیل اسانه کوي ، چې د جنس ، عمر ، مرتکب ، تاکتیک ، وسلې او نورو کتګوریو په لحاظ د معلوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

څرنګه چې په جګړه کې ډیرې غاړې ښکیلې وي ، نو یوناما خپله هره لار په کار اچوي او د امکان تر بریده هڅه کوي چې د ملکي مرګ ژوبلې د پیښې مسؤل لورى په کره او مشخصه توګه په ګوته کړي ، د بیلګې په توګه طالبان یا افغان ملي اردو . د عملیاتو له ډګر سره د اړوندو محدودیتونو له امله لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت ، او په ځینو پیښو کې د لومړنیو سرچینو په دې کې پاتې راتلل چې د ګڼ شمیر نظامي برخه والو یا یاغیانو په منځ کې توپیر وکړي یا داسې حالات چېرې چې هیڅ لورى د یوې پیښې مسؤلیت نه مني ، نو بیا شاید شونې نه وي چې کوم مشخص نظامي لوري ، امنیتي ځواک یا یاغي ډله د مشخصو ملکي مرګ ژوبلې په رامنځته کیدو کې مسؤل وګڼل شي . یوناما د ملکي تلفاتو د هرې پیښې لپاره دولت پلوه یا د دولت وسله وال مخالفین مسؤل ګڼي ، یا دواړه ګروپونه په ګډه پړه ګڼل کیږي او یا لکه جګړې د چاودیدونکو پاتې شونو مرتکب په نا مشخصه ډول پاتې کیږي اوهیڅ لوري ته نه منسوبیږي او شاید دا د پخوا جګړې پاتې شوني وي.

د دولت پلوه ځواکونو او دولت وسله والو مخالفینو تر منځ د ځمکنیو نښتو پر مهال چې کله ملکي مرګ ژوبله یوه لوري ته هم منسوب کیدي نشي ، نو یوناما داسې پېښه په یوه جلا کټګورۍ کې ثبتوي چې دواړو غاړو ته منسوبیږي. یوناما ادعاء نه کوي چې په دغه راپور کې احصایې بشپړې دي ؛ د کار په چاپیریال کې د محدویت په پام کې نیولو سره کیداي شي یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې پوره راپور نه وي ورکړي.

## لنډیز

*" د ماښام وخت و ، زما میرمن ، ماشومان او مور مې په کور کې وو. طالبانو د افغان ملي اردو په پوسته برید وکړ او بیا دواړه لورو هوان او راکټ یو د بل په ضد فیرکول پیل کړل. د هوان یوه مرمۍ زما په کور کې وچاوده چې زما اته کلنه لور یې ووژله او زما اوه کلن زوي او میرمن یې ټپي کړل. موږ بیسده شوو ، د کور د یو کونج څخه مو بل کونج ته منډه کړه او فکر مو کاوه چې بل هوان مرمۍ به په کور لګیږي. د هغې ورځې راپدیخوا نور ژوند نه لرم. زما مور ، ورونو ، خویندو او خپلوانو زما لور دفن کړه او ټپیان یې د تداوي لپاره روغتون ته یوړل. د لور په مرګ او د خواږه زوي او میرمن په ټپي کیدو ډیر غمجن یم. اوس یې د تداوي لګښت هم نشم پورته کولای او د مور په شمول د ټاټي فامیل نفقه هم ګټلای نشم.*[1]

-- د مئ په ۴ نېټه ، د کندهار ولایت ، غورک ولسوالی ، بیدک کلي کې د قربانیانو د پلار او میره سره مرکه چې د طالبانو او ملي اردو تر منځ په جګړه کې د یو هوان مرمۍ په چاودنه کې یوه ماشومه ووژل شوه او یو ماشوم او میرمن ټپي شوه.

د ۲۰۱۶ په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغانستان د وسلواله جګړې له امله ملکي وګړو ته د ۲۰۱۵ کال ورته تلفات اوښتي دي ، چې په ټوله کې دا د ۲۰۰۹ کال راپدیخوا په ثبت شوي شمېرو کې تر ټولو لوړ تلفات دي. یوناما د جنورۍ د لومړۍ نېټې څخه تر ۳۰ جون پورې ۵۱۶۶ ملکي تلفات ( ۱۶۰۱ مړه او ۳۵۶۵ ټپیان ) ثبت کړي ، چې د مړو په شمېر کې یوه سلنه کمښت او ټپیانو په شمېر کې شپږ سلنه لوړوالی ښیي،[2] خو په ټولیز ډول د تېر کال د ورته مودې په نسبت په ملکي تلفاتو کې څلور سلنه لوړ والي ښیي. د هغه راهیسې چې یوناما په منظم ډول د ملکي وګړو تلفات ثبتوي د ۲۰۰۹ کال دجنورۍ د لومړۍ نېټې څخه تر ۲۰۱۶ کال د جون تر ۳۰ مې نېټې پورې یوناما ۶۳۹۳۴ ملکي تلفات ( ۲۲۹۴۱ مړه او ۴۰۹۹۳ ټپیان) ثبت کړي.




[1] د قرباني ښځې د میړه او ماشومانو پلار سره د یوناما تلیفوني مرکه ، ۵ مئ ۲۰۱۶

[2] د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ ۱ نېټې څخه تر ۳۰ جون پورې یوناما ۴۹۸۲ ملکي تلفات ( ۱۶۱۵ مړه او ۳۳۶۷ټپیان) ثبت کړي.

دا راپور د ۲۰۱۶ کال د لومړيو شپږو مياشتو په موده کې ملکي افغانانو ته د وسلواله جګړې د تاوتریخوالي له امله راولاړ شوې سملاسي زيان لکه ، مرګ ، ژوبله ، اختطاف او بې ځايه کيدنه ثبتوي. دغه راپور د جګړې له امله د زيانونو ټوله اندازه او په افغانانو د لګول شويو محدوديتونو له امله هغه ناتواني نه شي انځوروالي چې د خپلو اړوندو بشري حقونو په برخمن کيدو کې پاتلې راغلې. اوسنی دوامداره ويجاړونکې او دردونکې جګړه په دوامدار ډول ملکي خلک وژني او ټپيان کوي ، معيشت او شتمني يې ويجاړوي ، په لسګونو زره خلک بې ځايه کوي ، د ملکي ملکي خلکو تګ راتګ ، زده کړو ، روغتيا او نورو خدماتو ته لاس رسی محدودوي.

د ۲۰۱۶ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې ، يوناما د ۵۰۷ ښځو تلفات ( ۱۳۰ مړې ، ۳۷۷ ټپي کيدل ) ثبت کړي. د ښځو تلفات د ۲۰۱۵ کال د همدې مودې پرتله ۱۱ سلنه کمه شوې [3] – چې دا په ټوله کې د ځای په ځای شويو چاودیدونکو توکو له امله له کموالي سره سمون خوري ، خو د ځمکنيو نښتو له امله د ښځو تلفات د ۲۰۱۵ کال د لومړۍ نيمايي پرتله لوړ شوي.

جګړې د کال په لومړيو شړو مياشتو کې مخ په ډيريدونکي ډول ماشومان اغيزمن کړي. نږدې هر دريم کس ماشوم و. يوناما د ماشومانو ۱۵۰۹ تنه تلفات ( ۳۸۸ مړه او ۱۱۲۱ ټپيان ) مستند کړي ، چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې پرتله ۱۸ سلنه زياتوالی په ګوته کوي.[4]

په جګړه کې د ښکېلو ډلو تر منځ ځمکنۍ نښتې په دوامدار ډول د ملکي تلفاتو ( مرګ او ژوبلې ) تر ټولو مخکښ لامل ګرځيدلې او بيا ورپسې ځانمرګي بريدونه ، ډله ييز بريدونه او ځای ځای په ځای شوي چاودیدونکي په ترتيب سره راځي.




[3] د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ ۱ نېټې څخه تر ۳۰ جون پورې يوناما ۵۶۷ ښځو تلفات ( ۱۶۷ مړې او ۴۰۰ ټپيانې ) ثبت کړې دي.
[4] د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ ۱ نېټې څخه تر ۳۰ جون پورې يوناما د ۱۲۸۳ ماشومانو تلفات ( ۳۲۳ مړه او ۹۶۰ ټپيان) ثبت کړي دی.

د دولت ضد وسلوالو عناصرو له لوري د ډله ییزو او ځانمرګو بریدونو سره یو ځای په تدریجي ډول ځمکنۍ نښتې او د دولت پلوه ځواکونوهوایی عملیات د ملکي تلفاتو د ډیر والي لامل شوی ، سربیره پر دې چې د د دولت ضد عناصرو لخو ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو او هدفي وژنو کې کمښت راغلی.

## د ملکي تلفاتو د مسوولیت منسوبول

یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۶۰ سلنه د دولت ضد عناصرو[۵] ته او ۲۳ سلنه یې دولت پلوه ځواکونو[۶] ( ۲۰ سلنه یې افغان ملي امنیتي ځواکونو ، دوه سلنه دولت پلوه وسلواله ډلو او یو سلنه نړیوال امنیتي ځواکونو ته ) ته منسوب کړې ده. د ټولو تلفاتو ۱۳ سلنه د دولت ضد عناصرو او افغان امنیتي ځواکونو تر منځ په ځمکنیو نښتو کې رامنځ ته شوي چې په ګډه سره دواړه لورو ته منسوب شوي او د دې سره څلور سلنه[۷] ملکي تلفات د نامعلوم لوري لخوا د جګړې چاودیدونکي پاتې شونو په پایله کې رامنځ ته شوي. [۸]




[۵] دولت ضد عناصر ټول هغه افراد او وسله والې ډلې رانغاړي ، چې د افغانستان د حکومت او یا نړیوال نظامي ځواکونو په ضد په وسله واله جګړه کې یا وسله وال مخالفت کې ښکېل دي. دې کې هغه څوک شامليږي چې ځان طالبان معرفي کوي او ورسره ټول هغه افراد غیر دولتي وسلواله منظمې ډلې چې په جګړه کې مستقیم برخه اخلي او مختلف نښو باندې ځان ښیي چې په دې کې د حقاني شبکه ، حزب اسلامي ، د ازبکستان اسلامي ، اتحاد جهاد اسلامي تحریک ، لشکر طیبه ، جیش محمد ، هغه ډلې چې د داعش په نوم پيژندل شوي او ورسره نو وسله واله ډلې چې سیاسي ، ایډیالوجکي او اقتصادي موخي تعقیبوي او په دې کې هغه جرمي ډلې هم شامل دی چې په جګړه کې د ښکېل لوري په استازیتوب جګړه کې برخه اخلي.

[۶] د دولت پلوه ځواکونواصطلاح د افغان ملي امنتي ځواکونه او ټول هغه ځواکونه او ډلې دي چې په نظامي او نیمه نظامي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتو کې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت تر قوماندې او ادارې لاندې دي شامل دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي اردو ، افغان ملي پولیس ، افغان سرحدي پولیس ، ملي امنیت او افغان سیمه ییز پولیس شامل دي خو تر دې محدود ندي چې د افغانستان قانوني چوکاټ کې فعالیت کوي او هغه دولت پلوه وسلواله ډلې او ملېشې چې د افغانستان په قوانینوکې ځای نه لري او د حکومت د رسمي چوکاټ کې فعالیت نه کوي شامل دي. همدارنګه په دغه اصطلاح کې نړیوال ځواکونه او نور بهرني استخباراتي او امنیتي ځواکونه هم شامل دي. د نور تفصیل د پاره فهرست برخه وګورئ.

[۷] یوناما نیم فصید نه کم تلفات د پولې پورې غاړې د پاکستان د لوري په افغانستان کې ګولۍ ویشتلو ته منسوب کړي.

[۸] د نامعلوم لوري لخوا د جګړې چاودیدونکي پاته شوني چې کوم مشخص لوري ته ندی منسوب شوي یا هغه چاودیدونکي پاته شوني چې د پخوانۍ جګړې نه پاته شوي دي.

## د دولت ضد عناصر

د جنوري د لومړۍ نېټې څخه تر ۳۰ جون پورې یوناما د ټولو دولت ضد عناصرو د عملیاتو په پایله کې ۳۴۷۵ ملکي تلفات (۱۲۲۸ مړه او ۲۲۴۷ ټپیان ) ثبت کړي ،چې دا د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې پرتله ۱۱ سلنه کمښت ښیي.[۹] په ملکي تلفاتو کې د کمښت بنسټیز لامل د دولت ضد عناصرو ته منسوب د ځای په ځای شوی چاودیدونکو توکو له امله په ملکي تلفاتو کې ۲۱ سلنه او په هدفي وژنوکې ۲۹ سلنه کمښت په ګوته شوی.[۱۰] د چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د تلفاتو کمښت د څو لاملونو د یو ځای کیدو پایله ده ، چې په دې کې د افغان امنیتي ځواکونو لخوا په احتمالي ډول د هدف په نیولو کې پرمختګ د دې سبب ګرځیدلي. خو بیا هم یوناما د دولت ضد عناصرو ته منسوب ډله ییزو[۱۱] او ځانمرګو بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې شپږ سلنه ډیر والی ثبت کړی ، چې په دې کې هغه بریدونه هم شامل دی چې په قصدي ډول پکې ملکي وګړي په نښه شوي دي.

یوناما د ځمکنیو نښتو له امله په ملکي تلفاتو کې دوه سلنه لوړوالی ثبت کړی چې په یواځې ډول دولت ضد عناصرو ته منسوب شوی ، چې دا د ۲۰۱۵ کال په مهال د ثبت شوي میلان په ضد تمایل دی. د ځمکنیو نښتو په مهال د دولت ضد عناصرو ته منسوب په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی باید د ځمکنیو نښتو له امله په تلفاتو کې له هغه زیاتوالی سره په اړیکه کې وکتل شي ، چې کوم ځانګړي لوري ته نه دي منسوب شوي او دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو دواړو ته یې د مسؤلیت نسبت شوی دی.

## دولت پلوه ځواکونه

د ۲۰۱۵ کال د یوناما او د بشري حقونو عالي کمشنرۍ په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په کلني راپور کې له مستند شویو تمایلاتو سره په مطابقت کې ، د دولت پلوه ځواکونو د ۲۰۱۶ کال په لومړۍ نیمایی کې په ډیریدونکي ډول د ملکي تلفاتو لامل ګرځیدلی ، یوناما ۱۱۸۰ ملکي تلفات ( ۳۸۳ مړه او ۷۹۷ ټپیان) ثبت کړي چې د دولت پلوه ځواکونو له لوري اوښتي ، چې دا د ۲۰۱۵ کال د همدې مودې په نسبت ۴۷ سلنه ډیر والی ښیي.[۱۲] د دولت پلوه ځواکونو لخوا ډیری ملکي تلفات د هغو غیرو مستقیمو او چاودیدونکو وسلو له امله رامنځ ته شوي لکه توپچي ، هاوان ، راکټ او لاسي بمونه چې د ځمکنیو نښتو په مهال کارول شوي: یوناما د افغان امنیتي ځواکونو د هوایی عملیاتو په نتیجه هم ډیری ملکي تلفات ثبت کړی دي. یوناما یادونه کوي چې د دې ډیروالي ممکنه لامل شاید د افغان امنیتي ځواکونو له خوا په ټول افغانستان د زیاتو عملیاتو له تر سره کولو سره تړاو ولري ، خو د تاکتیکي لارښودونو غښتلي کول ، روزل او د غیرو مستقیمو وسلو د کارلو په برخه کې د هدف په نښه کولو کې تمرینونه د ملکي تلفاتو دوامداره ډیریدل راکمولای شي.

یوناما د هوایی عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو کې د ۱۱۰ سلنه ډیروالي له امله ځانګړې اندیښنه څرګندوي ، چې ۱۶۱ ملکي تلفات ( ۵۷ مړه او ۱۰۴ ټپیان ) دی او د دې اساسي لامل د افغان امنیتي ځواکونو لخوا مخ پر ډیریدونکي هوایی عملیات دی. د ۲۰۰۹ کال راهیسې چې یوناما د ملکي تلفاتو منظم نظارت پیل کړی. دا لومړی ځل دی چې د افغان امنیتي ځواکونو عملیات د

---

[۹] د ۲۰۱۵ کال د جنوري ۱ نېټې نه تر ۳۰ جون پورې ، یوناما ۳۴۷۵ ملکي تلفات ( ۱۲ ۲۸ کسانو مړینهاو ۲۲۴۷ ټپیان ) ټولو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي دي

[۱۰] یوناما د ۵۲۵ ملکي تلفات ( ۲۳۶ مړه او ۲۸۹ ټپیان ) د هدفي وژنو په پایله کې ثبت کړي چې د دولت ضد عناصرو لخوا د ۲۰۱۶ په لومړۍ نیمایی کې ترسره شوي ، چې د ۲۰۱۵ کال د ورته مودې کې ۷۴۲ ( ۴۴۲ مړه او ۳۰۰ ټپیان )وو.

[۱۱] یوناما ډله ییز برید هغه قصدي او همغږي برید وایی چې پدې کې ځان وژونکي وسیله ( په ځان پورې تړل شوي چاودیدونکي توکي یا په موټر کې ځای په ځای شوی چاودیدونکي توکي) د یو څخه زیات برید کونکي او د یو څخه ډیر وسیلي وي ( لکه په ځان پورې تړل شوي چاودیدونکي توکي یا هوان ). په ډله ییز برید کې باید دغه درې واړه عناصر ضرور شامل وي

[۱۲] د ۲۰۱۵ کال د جنوري د ۱ نېټې څخه تر ۳۰ جون پورې ، یوناما د ۸۰۴ ملکي تلفات ( ۲۳۹ مړه او ۵۶۵ ټپیان) ثبت کړي چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا اوښتي دي.

۱۱۱ ملکي تلفاتو ( ۱۹ مړه او ۹۲ ټپیان ) لامل شوي ، چې د نړیوالو امنیتي ځواکونو له هوایی عملیاتو څخه د راولاړ شویو تلفاتو( ۵۰ ملکي تلفات ( ۳۸ مړه او ۱۲ ټپیان ) څخه ډیر یا وراوړي.

**هغه ملکي تلفات چې مسولیت یې کومې خاصې ډلې ته نه منسوب کیږي**

د ۵،۱۶۶ ملکي تلفاتو له جملې څخه چې د یوناما په واسطه ثبت شوي ، ۱۳ سلنه یی چې ۱۴۸ مړه او ۴۷۷ ټپیان دی چې ټول ۶۶۱ ملکي تلفات کیږي مسولیت یی کومې ډلې ته نه منسوب کیږي. او دغه ۱۳ سلنه ملکي تلفات چې د افغان امنیتي ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ په ځمکنیو شخړو کې رامنځته شوي د جنګ دواړو طرفو ته منسوب کیږی ، او پاتې ۴ سلنه ۶۸ مړه او ۱۷۵ ټپیان دي چې ټول ۲۴۳ ملکي تلفات کیږي د جنګ د پاتی شونو او یا ناچاودیدونکو توکو په واسطه رامنځته شوی.

**ځمکنی نښتې**

د یوناما ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلنو د راپورونو په اساس د ۲۰۱۶ کال په اوله نیمایی کې تر ټولو ډیر ملکي تلفات د ځمکنیو شخړو څخه رامنځته شوی ، چې ټول ۱۹۷۲ دی او پدی کې ۵۴۹ مړه او ۱۴۲۳ ټپیان دی. دغه شمیر په ۲۰۱۵ کال کې د لومړۍ نیمایی په نسبت ۲۳ سلنه زیات دی.[۱۳] هغه ملکي تلفات چې ددولت پلوه ځواکونو په واسطه په ځمکنیو شخړو کې رامنځته شوی ۴۱ سلنه دی. په کوم کې چې ۲۳۲ مړه او ۵۸۱ ټپیان دی چې ټول ۸۱۳ ملکي تلفات کیږی. همدارنګه هغه ملکي تلفات چې ددولت ضد ځواکونو د لوري په ځمکنیو شخړو کې رامنځته شوی ۲۷ سلنه دی ، چې ټول ۵۳۰ ملکي تلفات کیږي چې په کې ۱۴۵ مړه او ۳۸۵ زخمیان دی. هغه ملکي تلفات چې د یوناما لخوا د جنګ دواړو خواوو ته راجع شوي ۳۱ سلنه دی. چې ټول ۶۱۹ ملکي تلفات دی چې پدې کې ۱۶۹ مړه او ۴۵۰ ټپیان دی. پاتې ۱ سلنه تلفات چې ټول ۱۰ ملکي تلفات دي چې پدی کې ۳ مړه او ۷ ټپیان دي ، د افغانستان او پاکستان پر پوله د شخړو په واسطه رامنځته شوی.




[۱۳] د ۲۰۱۵ کال د ۱-جنوری او ۳۰ جون په موده کی یوناما د ځمکنی شخړو څخه ۱۶۰۲ ملکی تلفات ثبت کړي چی پدې کې ۳۸۷ مړه او ۱۲۱۵ ټپیان وه

**مشاهدات**

۲۰۱۶ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د دوامداره بی امني او سیاسی کړکیچونو له وجی په جنګونو کې ملکي تلفات بی ساری وو ، او ددولت پلوه متخاصمو ډلو تر منځ شخړو او ددولت ضد متخاصمو ډلو[۱۴] ترمنځ شخړو ، ملکي وګړو ته اضافی سر دردی او ننګونی پیدا کړی.

طالبانو خپلو بی توپیره تکتیکونو ته ادامه ورکړې ، ځان وژونکی او ویجاړوونکی بریدونه یی ترسره کړل. همدارنګه دوی خپلې هڅې جاري وساتلی چې د هیواد ځینې سیمې په ولکه کې وساتي ، او پداسی فعالیتونو کې یی د ونډې اخیستلو کوښښ وکړ چې اټکل کیږي حکومت په هغو کې پاتې راغلی ، د بیلګي په توګه د قانون او نظم ساتنه ، پوهنه او په نورو پرمختیایی برخو کې یی ځان فعال ښودلی دی.

۲۰۱۵ کال د سبتمبر په میاشت کې کله چې د کندز بعضي ساحې سقوط شوي او امنیتی ننګونی زیاتی شوی ، نو متحده ایالاتو د امنیتی ځواکونو سره ددولت ضد عناصرو ، د داعش پلوه ډلو[۱۵] په ګډون په مقابل کې خپله تکتیکي حمایه زیاته کړه. که څه هم ګڼو هڅو د سولې په لور تمې پیدا کړې ، خو اوسني سیاسي او نظامي وضعیت په لنډ محال کې د جګړې دوام په ګوته کوی. نو داسی بریښي چې د تلپاتی سولې راتګ او د تاوتریخوالي پای ډیر وخت ته ضرورت لري.

پورتني حالت د بشر د حقوقو لپاره خورا ستونزمن محیط رامنځته کړی ، او په ځنی ساحو کې یي د بشر د حقوقو د له منځه وړلو لامل شوی ، چې د ملکي وګړو ساتنه یی ستونزمنه کړې.

د جنګ د دواړو خواوو له طرفه د ځمکنیو شخړو په نتیجه کې په ارزګان ، هلمند ، بغلان او کندز ولایتونو کې په زیاته کچه ملکي تلفات رامنځته شوي ، او دغه جنګونه د عامو خلکو د اوسیدنې د ځایو تر څنګ او یا هم د دوی په میشت ځایونو کې تر سره شوی. ددی جنګونو له وجی ډیر ملکي وګړی وژل شوي ، ټپي شوي ، بي ځایه شوي ، ملکیتونه یی خراب شوي او همدارنګه د ډیرو نورو خدماتو څخه بی برخي شوي. یوناما ډیر تعداد داسی قضیي ثبتې کړی چې د هغو ناچاودو توکو په وجه رامنځته شوي کوم چې ددغه جنګونو څخه پاتې شوي. تر اوسه ، نه افغان امنیتي ځواکونو او نه هم ددولت ضد عناصرو داسی کومه پالیسي باندي کار کړی او نه یی کوم بل اقدام کړی ترڅو د ناچاودو توکو ځایونه پاک او یا په نښه کړی.

سره ددی چې ۲۰۱۶ په اوله نیمایي کې ددولت ضد عناصرو لخوا ملکي تلفاتو کې زیاتوالی راغلی ، د طالبانو په شمول ورته ګروپونو په قصدي توګه ملکي وګړي د ځانمرګه او نورو ویجاړونکو بریدونو په واسطه په نښه کړي. او په همدی دلیل ملکي وګړي د رنګارنګ ستونزو سره مخ شوي ، په ځانګړی توګه چې دغسی پیښی په ښآری سیمو او مسجدونو کې ترسره شوي دي. په ۲۰۱۶ کال کې تر اوسه ځان وژونکي او ډله ییز بریدونه په دوهم قطار کې راځي چې زیات ملکي تلفات یی اړولی. په مرکز کابل کې د ملکي تلفاتو

---

[۱۴] ددولت پلوه مسلح ګروپونو اصطلاح یو منظم غیردولتی نهادونوته وایی اود دولتی ځواکونو ، یاغیانو اومجرموډلو څخه توپیرلری.دولتی مسلح ګروپونه دهغوافغان محلی پولیسو څخه فرق لری کوم چی د داخله وزارت د مستقیم امراوکنترول لاندی دی ، نوموړی ګروپونه دافغانستان په قوانینو کی کوم ځای نه لری ،مسلح ګروپونه ددی توانمندی لری چی د زورپواسطه خپلوسیاسی ، نظریاتی اواقتصادی هدفونوته ځان ورسوی ،خو دوی د دولت درسمی نظامی سیستم ، دولت ته متعهد ګروپونه او یا په دولت کی دداخلی نهادونو په چوکاټ کی نه راځی او په هغه دولت کی چی دوی عمل کوی دهغی دولت د کنترول ترچوکاټ لاندی نه دی. په بعضی حالاتونوموړی مسلح ګروپونه دولت یا دنوروایالاتونو مستقیمه یا غیرمستقیمه حمایت ترلاسه کوی ، لاندینی ګروپونه هم د پورتنی تعریف لاندی راځی خو تردوی پوری محدود نه دی: دملی هڅونی حرکت ،داخلی ملیشه (چی اساس یی قومی یا قبیلوی وی )اوملکی دفاعی ځواکونه اونمیه نظامی ګروپونه(اودی ته ورته ګرپونه چی ددولت ترکنترول لاندی ندی.)

[۱۵] په افغانستان کی د اسلامی دولت ډلی اصطلاح څخه چی د عربی داعش ډلی اطلاق پری کیږی ، پداسی حال کی چی دهیواد په بعضی سیمو کی نوموړی اصطلاح خارجی جنګیالیوته استعمالیږی ، *بیدون له دوی د پلوی نه*.د داعش اصطلاح (دعراق اوسوریه د اسلامی دولتونو څخه اخستل شوی ده )

له جملې څخه ۶۲ سلنه ملکي تلفات د ځان وژونکو او ډله ییزوبریدونو څخه رامنځته شوي ، په شمول د هغي ډله ییز برید پیښې چې په ۱۹ د اپریل په کابل کې ترسره شوه په کومه کې د جمهوری ریاست د لوړپوړو امنیتي چارواکو د ساتنې ریاست په نښه شوی و ، او ۳۹۳ تلفات یې اړولي وو او طالبانو د پیښې مسولیت په غاړه اخیستی و. که څه هم د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو[16] په کارونه کې ، په تېره بیا د هغو توکو په کارونه کې چې د فشار د الې په ذریعه چول کیږي ، کموالی د دې سبب ګرځیدلی چې د دولت ضد عناصرو له خوا په ملکي تلفاتو کې کموالی راشي ، خو دغه کموالی تر یوې اندازې باید د هغو هڅو پایله وګڼل شي چې د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د تشخیص او خنثي کولو په موخه ترسره شوې دي.

په داسې حال کې چې یوناما ددې یادونه کوي چې لومړني اقدامات د طالبانو له خوا ونیول شول چې په عام ډول د ملکي تلفاتو زیان په غاړه واخلي ، دوی باید د ملکي وګړو لپاره یو تعریف چې د نړیوالو قانون سره په مطابقت کې وی پیدا کړي ، او همدارنګه د نړیوالو قوانینو سره سم خپلو مسولیتونو ته په کتو سره په قصدی توګه د ملکي وګړو د نښه کولو څخه مخنیوی وکړي. په تاکتیکي کچه به په پالیسي کې دا ډول بدلون ملکي تلفات په سملاسي ډول کم کړي چې له جګړو څخه راپیدا کیږي.

په همدی شکل یوناما یاداشت کړی چې د جګړو د دوام اثر نه یواځې ښځې او انجونې په زیاته پیمانه وژلې او یا ټپی کړی ، بلکې ددوی لاسرسی یې تعلیم ته ، صحت ته ، او ددتګ راتګ حق ته محدود کړی ، د خواشینی ځای دی چې ددولت ضد عناصر د تاوتریخوالی له لاری اخلاقی معیار تطبیقوی. یوناما مشاهده کړی چې ددی کال په لومړیو کې ددولت ضد عناصرو لخوا د ښځو په برخه کې د اخلاقی جرمونو په نوم د صحرایی محمکو په سزا ورکونه کې زیاتوالی راغلی ، چې په نتیجه کې ښځې د لا زیاتو مشکلاتو سره مخ شوی ، په خاصه توګه کله چې دوی د جنګ په وجه بې ځایه او د خپلو کورنیو لپاره یوازینۍ سرپرستی پاتی شی.

څرنګه چې ددولت ضد عناصر په زیاته توګه د ملکي تلفاتو د رامنځته کولو سبب شوی ، همدارنګه یوناما د ملکي تلفاتو په ډیروالی کې ددولت پلوه ځواکونو په اړه تشویش ښودلی دی. ډیری ملکي تلفات د دولت امنیتی ځواکونو له پلوه د منفجره وسلو په اساس په جنګی شخړو کې رامنځته شوی.

یوناما د ۲۰۱۵ کال په نیم کلن او کلني راپورونو کې د امنیتی ځواکونو په هکله یو بل تشویش په ګوته کړی و چې دوی د خپلو هوایی بریدونو په نتیجه کې ډیری ملکي تلفات رامنځته کړي. د هغه وخت نه چې یوناما په رسمی توګه د ملکي تلفاتو ثبتول شروع کړی ، نو په دغه موده کې افغان امنیتی ځواکونو د نړیوال ځواکونو په پرتله ډیر ملکي تلفات رامنځته کړي. همدارنګه یوناما له دې درکه اندېښنه لري ، چې حکومت لا اوس هم د امنیت د ساتلو او د عملیاتو د ترسره کولو لپاره په تېره په جوزجان ، فارياب او خوست ولایتونو کې پر هغو حکومت پلوه وسله والو ډلو تکیه کوي ، چې د راپورونو له مخې له نامتو زور واکونو سره اړیکې لري. دغې ډلې د راپورونو له مخې د سرغړونو په اړه له معافیت څخه برخمنې دي ، چې له دغو زور واکونو سره اړیکې لري.

ددی ننګونو سره سره ، یوناما د جنګ د خواوو له لوری په جنګ کې د ملکي تلفاتو کمولو او پالیسو په جوړونه کې بعضی پرمختګونه مشاهده کړي. خصوصا کله چې دوی د هدف ټاکنه کوی. یوناما ددولت سره د ملکي تلفاتو د کمولو لپاره د ملی پالیسی جوړولو په اړوند همکاري جاري ساتلی. او ددغی راپور تر مودی پوری پکی ځای پر ځای شوی ، ترڅو یوه مشخص نهاد ددی لپاره رامنځته

[16] دمتحده ایالاتو راپورچی (په افغانستان کی د دامنیت اوثبات لوړولو) په هکله لیکلی وګوری.چی ۳۰ صفحه د ۲۰۱۶ کال د جون په میاشت کی لیکلی او په لاندی لنک یی پیدا کولی شی. http://www.defense.gov/portals/1/documents/enhancing_security_and_stability_in_afghanistan-june_2016.pdf, last accessed 19 June 2016.

کړی چې په جنګ کې ملکي وګړو ته رسیدلی زیان او واقعات وخیږی. او د ملکي وګړو د ساتنی په برخه کې په لوړه کچه د دولت له همکاری څخه حمایه وکړی ، او لومړنی اقدامات به داوی ترڅود ملکي تلفاتو په برخه کې کمښت رامنځته شی.

۲۰۱۵ کال په پرتله ددولت ضد عناصرو له لوری په شوو ملکي تلفاتو کې د هدفی وژنو او بمی چاودنو په پیښو کې کمښت راغلی ، د پالیسی د یوې موضوع په توګه ، طالبانو او د دولت ضد عناصرو هغه ملکي وګړی چې د بشرپالنې د نړیوالو قوانینو له مخی د خوندیتوب ځای ورکړل شوی ، په قصدي توګه تر هدف لاندې راوستي .

ددغو پرمختګونو سره سره ، ملکي تلفات بیا هم په لوړه کچه شتون لری. په جدی توګه دی ته ضرورت دی چې د جنګ خواوی په جنګ کې د ملکي وګړو د خوندیتوب په موخه موثر ګامونه پورته کړی او د بشرپالنی نړیوال قوانینو ته په کتو خپل مسولیتونه تر سره کړی.

یوناما تاییدوی چې ، د بشرپالنی نړیوال قوانینو غوښتنه دا ده چې د جنګ خواوی په جنګ کې د ملکي وګړو د خوندیتوب په موخه موثر ګامونه پورته کړی ، ترڅو د نوموړو قوانینو په رڼا کې د تاوتریخوالي حساب ورکونه وشی ، او متضررو ملکي وګړو ته جبران ورکړی.

یوناما د جنګ په خواوو غږ کوی چې ټول هغه افراد یا مسلح ګروپونه چې ملکي وګړي په قصدي او بی رحمانه توګه تر هدف لاندې نیسی ، وژني یی او یایی ټپیانوی ، حساب ورکونې ته حاضر شي.

یوناما د جنګ خواوو ته لاندنی سپارښتنې لری تر څو ټولې هغه هڅی چې د ملکي وګړو د خوندیتوب په موخه ترسره کیږی حمایه کړی او خپل مسولیتونه د بشرپالنې د نړیوالو قوانینو په رڼا کې ترسره کړی.

## سپارښتنې

### دولت ضد عناصر

د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې د ژمنو سره په مطابقت کې

- په عمدي توګه د ملکیانو او ملکي وګړو د میشت ځایونو ، په ځانګړی ډول د مرستندویه کارکونکو ، د دولت د ملکي کارکونکو ، خبریالانو ، د بشری حقوقونو د مدافعینو ، قاضیانو ، څارنوالانو ، د عبادت ځایونو او د کلتوري مرکزونو په وړاندې د په نښه کولو څخه ډډه وشي ، او د ملکي وګړو داسې تعریف چې د بشر پالنې د نړیوال قانون سره مطابقت کې وی ، په کار واچول شي.
- په بې توپیره او غیر متناسبو ډله ییزو او ځان وژنکو بریدونو کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د استعمال درول ، په ټولو هغو ځایونو کې چې ملکي وګړي تګ راتګ کوي او د فشار په ذریعه د غیر قانوني چاودیدونکو توکو د چولو څخه ډډه کول.
- د ملکي وګړو د ګڼ میشتو سیمو څخه په عامه ګڼ میشتو ځایونو د راکټونو ، لاسی بمونو ، د هاوان د ګولیو استعمال مخنیوی.

- د طالبانو د مشرتابه له خوا د هغو بیانیو نافذول کوم چې پر ملکیانو او د ملکیانو په میشت ځایونو د حملو مخنیوی کوي. د هغو لارښودونو پلي کول چې د طالبانو غړو ته امر کوي چې د ملکي تلفاتو مخه ونیسي ، او د طالبانو د ملکي کسانو د ساتنې د پالیسې ګانو خپرول او هغه کسان مسول وګڼې ځوک چې ملکي کسان د هدف لاندی نیسي ، وژنې یا یې ژوبلوي ، او ډاډ حاصل کړي چې ټول لارښودونه او حکمونه د بشر پالنې د نړیوال قانون سره په مطابقت کې وي.
- د طالبانو تر نفوذ لاندې سیمو کې د ښځو او نجونو د بشري حقونو په اړه د طالبانو د مشرتابه له خوا د اعلامیو په نظر کې نیول ، د نجونو د ښوونې او روزنې ، ښوونکو او په عمومي توګه د پوهنې د سکتور په وړاندې د حملو او ګواښونو او حملو څخه مخنیوی.
- ډاډ حاصل شي چې دولت ضد عناصر ښوونځې ، روغتونونو ، کلینیکونو او نور خوندي ځایونه د خپلو پوځې موخو لپاره نه کاروي ، او د روغتیا پالنې د کارکونکو په وړاندې د ګوزڼ د واکسیناتورانو او د پولیو د واکسین د کمپاینونو په ګډون د ټولو بریدونو او ګواښونو د ترسره کولو څخه ډډه وکړي ، او د هر ډول اعمالو د ترسره کولو څخه چې موخه یې د پوهنې او روغتیا پالنې د لاسرسې وړ معیارونو ته د انفرادي کسانو د حقونو لاسرسی دی ، مخنیوی وکړي .

**د افغانستان دولت**

- د افغانستان د دولت له خوا په ګڼ میشتو ملکي سیمو کې د هاوانونو ، راکټونو ، لاسي بمونو ، او نورو غیر مستقیمو وسلو ، او د هوایي بریدونو درول. د چاودیدونکې وسلو او پوځې الوتکو د کارولو په تړاو روښانه تاکتیکي لارښودونو او د جګړې د اصولو او نورو کړنلارو را منځ ته کول او د هغو پلې کول.
- د ملکي تلفاتو د کمولو د ملي پالیسی پلي کول او د عمل د پلان نهایي کول ، په دې کې باید داسې واقعي موخې او تدبیرونه شامل شي چې موخه یې په جګړه کې د ملکي تلفاتو د شمیر کمول وي ، او د دولت په دننه کې د یوه اختصاص شوی نهاد د را منځ ته کولو څخه ډاډ چې موخه یې د شخړې سره د تړلو ټولو پیښو څیړنه کوم چې ملکي کسانو ته زیان رسوي.
- د ټولو ناقانونه وسله والو ډلو ، ملېشو او د ملي پاځون د خوځښتونو ژر تر ژره بې وسلې کول او منحلول.
- د افغان امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د بشرپالنې د نړیوال قانون د سرغړونو ، د نړیوال بشري حقونو د قانون او د بشري حقونو د قانون د سرغړونو د ټولو مواردو څیړل ، او د افغان او نړیوالو قوانینو لاندی لکه څنګه چې اجابت کیږي د هغو ټولو مسولو کسانو تعقیب او محاکمه.
- ډاډ حاصل شي چې د سرغړونو قربانیان د پام وړ خسارې تر لاسه کړي ، د ملکي کسانو د کورنیو لپاره چې د شخړې سره د تړلې خشونت په نتیجه کې وژل شوي او ټپي شوي د خسارې ښه طرزالعملونه چمتو کړي ، د هغو طرزالعملونو په اړه د عامه پوهاوی لوړول چې موخه یې د خسارې تر لاسه کول او اساسي خدمتونو ته لاسرسی وي او همدارنګه ډاډ حاصل شي چې د جبران مطالبې او اساسي خدمتونو ته ښځې او نجونې مساوي لاسرسی ولري.
- د افغان ملی امنیتی ځواکونو ظرفیت لوړولو ته د لومړیتوب ورکول څو د کشف ، را غونډولو ، پروسس کولو او د معلوماتو د خپرولو په شمول ، دتعبیه شویو چاودیدونکو توکو د خنثی کولو او د قوماندې ، کنترول او په موثره توګه دتعبیه شویو

چاودیدونکو توکو سره د مبارزې په وړاندې عملیات ترسره کړي [۱۷]. د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې د ملي ستراتیژۍ د بشپړ تطبیق لپاره ټولې اړینې سرچینې اختصاص کړي.

- د ښوونځیو ، روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه د پوځۍ اهدافو د کارولو په حیث سمدستي مخنیوی. داډ حاصل شي چې ټول کسان د ښوونې او روزنې او روغتیا پالنې د لاسرسي وړ معیارونو ته لاسرسی لري.

## نړیوال نظامي ځواکونه[۱۸]

- د نښتو د ترسره کولو په وخت کې د ملکي تلفاتو د کمولو په هکله د یوې ملي پالیسي د تطبیق په برخه کې د افغانستان د حکومت ملاتړ ، او د یوه مناسب پلان د جوړولو په موخه ، چې د نښتو د ترسره کولو په وخت کې د ملکي تلفاتو د پیښیدو څخه مخنیوی وکړي باید ریښتینې موخې شاملې وي.
- د ۲۰۱۶ کال نه وروسته په پالیسي او عملیاتي کچو کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د روزنو ، سرچینو او اړوند ملاتړ برابرولو دا چارې باید تاکتیکي کچو ته هم وغزولې شي ، د غیر مستقیمو ډزو او او پوځي الوتکو د کارولو په حواله د ملکي تلفاتو د را کمولو تدبیرونه او روزنې او مناسبو پرتوکولونو ته اړتیا ، او پاید ډاډ حاصل شي چې ژمنې د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې اجابت کوي.
- د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړ دوام تر څو قومانده او کنترول په لاس کې ونیسي او همدارنګه د ۲۰۱۶ کال او له هغه نه وروسته موده کې د کشف ، را غونډولو ، پروسس کولو او د معلوماتو د خپرولو په شمول د چاودیدونکو توکو پر وړاندې د عملیاتو او تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د خنثی کولو چارې په موثره توګه ترسره کړي.
- د داسې اقداماتو ترسره کول څو ډاډ حاصل کړي چې د ۲۰۱۵ کال په اکتوبر میاشت کې د یوه هوایي برید په پایله کې د کندوز ولایت د بې پولې ډاکټرانو (ام اس اف) پر روغتون تر سره شو د برید خپلواکه ، بې پرې ، شفافه او واقعي څیړنه تر سره شي او موندنې یې په عامه ډول خپرې کړي ، او هغه څوک چې د دی جنایي پیښې مسؤل دي باید د نظامي قوانینو پر اساس محاکمه شي.
- د هغو عملیاتو په هکله په کومو کې چې نړیوال امنیتي یا استخباراتي ځواکونه ښکیل وي د ملکي تلفاتو د ادعاوو په تعقیب د شفافو بیا کتنو او څیړنو ترسره کول ، په ځانګړې ډول د هوایي بریدونو او تلاشي ګانو په حواله تر څو ډاډ حاصل کړي چې ژمنې د عملیاتي فعالیتونو او د بشر پالنې د نړیوال قانون او نړیوالو بشري حقونو د قانون سره په مطابقت کې دي.
- د قربانیانو او ژوندي پاتې شویو کسانو لپآره د جبران غوښتلو او د مرتکبینو د احتساب لپاره د حساب ورکونې څخه د ډاډ حاصلولو په خاطر د بشر پالنې د نړیوال قانون ، بشري حقونو د قانون او د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا د جنایي

---

[۱۷] د تعبیه شوی چاودیدونکو توکو استثمار هغه پروسی ته ویل کیږ چی په هغه کی مالومات او لاس ته راغلی مواد در چودیدونکی تو کو څخه تولیږی، پروسیس او ویشل کیږی ترڅو عملی مالومات تر لاسه، چی په ترڅ کی خاص میتودونو او لاری چاری د چاودیدونکو توکو پر ضد مبارزه او د هغه لړ کی د حکومت ضد وسلواو منابع کم سی. د چاودیدونکو توکو استثمار د کشفولو، ساتنو، تشخیصولو او کشفولو په معنی دی چی د تخنیکی متخصصینو په واسطه باندی ده تشخیص او بایومتریک معایناتو دپاره کارول کیږی. دی چاودیدونکو توکو استثمارول یو دیر مهم برخه ده.

[۱۸] یوناما دفتر په دی باور دی چی د ناتو قاطع ملاتړ ماموریت هر وقت نوی مالومات در سپاربښتنی دپار چی دی (۱۸ ولای ۲۰۱۶) هوکړه لیک پر اساس باندی دی وړرانده کوی.

عملونو د سرغړونو د ټولو اعتبار لرونکو ادعاوو د موثره ، خپلواکو ، بې پرې او شفافو څېړنو څخه ډاډ تر لاسه شي.

**د سیمي په اساس د ملکي وګړو مرګ ژوبله**
**جنوري - جون ۲۰۰۹ -۲۰۱۶**




| | مرکزي سیمه | مرکزي لوړه سیمه | ختیځ | شمال ختیځ | شمال | جنوب ختیځ | جنوب | لویدیځ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2009 | 314 | 27 | 329 | 35 | 61 | 445 | 1123 | 158 |
| 2010 | 351 | 8 | 440 | 113 | 93 | 551 | 1559 | 156 |
| 2011 | 447 | 1 | 697 | 363 | 98 | 875 | 1216 | 219 |
| 2012 | 464 | 9 | 437 | 147 | 318 | 664 | 891 | 208 |
| 2013 | 612 | 25 | 671 | 187 | 331 | 598 | 1093 | 404 |
| 2014 | 697 | 38 | 856 | 311 | 563 | 615 | 1392 | 422 |
| 2015 | 690 | 42 | 952 | 548 | 370 | 766 | 1317 | 297 |
| 2016 | 1113 | 8 | 738 | 536 | 503 | 439 | 1444 | 385 |